# څوک چې زموږ پر وړاندې وسله پورته کړي، له موږ څخه نه دی

له ابو موسی الاشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «څوک چې زموږ پر وړاندې وسله پورته کړي، له موږ څخه نه دی».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو د ویرولو یا لوټلو په موخه د دوی په وړاندې د وسلو پورته کولو په اړه خبرداری ورکړی، چې څوک د دې لپاره دا کار وکړي چې مسلمانان وویروي او یا یې لوټ کړي، نو یقینا چې د لوی جرم او له ګناهونو څخه د لویې ګناه مرتکب شوي، او د دې لوي ګواښ مستحق وګرځېده.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2997